# د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت
# د مدني حقوقو څانګه
# د مهاجرینو او کارکونکو د حقونو برخه (آی پي آر IER)

**د مهاجرت ځانګړي ویزه لرونکو او مشروط لنډمهاله اوسېدونکو افغانانو لپاره د کارموندنې اړوند معلومات.**

ځانګړي افغان مهاجرين چې قانوني تلپاتې/دايمي اوسېدونکي (LPRs) دي، او ځانګړي افغان مهاجرين چې قانوني تلپاتې مشروط اوسېدونکي (CPRs) دي، او هغه افغانان چې د متحدو کډوالو(OAR) او متحدينو د ښه راغلاست (OAW) دعملياتو/پرګرامونو له لارې مشروط لنډمهاله اوسيدونکي (پيرول) لري، په متحده ايالاتو کې د کار کولو اجازه لري. د کره معلوماتودا پانه دعدليې وزارت د مدني حقونو څانګې د کډوالو او د کارکونکو د حقونو برخې (IER) لخوا خپره شوي ده او د دوی د کارموندنې حقونو په اړه ځينې عمومي معلومات وړاندې کوي. ژغورل شوي افغانان د کډوالی بیلابیل وضعیتونه ولري لکه د لنډمهاله مصونيت وضعيت (TPS) يا د کډوالی وضعيت همدارنګه ژغورل شوي افغانان ښايي د متحده ايالاتو تابعيت ولري. کار ګمارونکي بايد د تابعيت، د ګډوالی وضعيت، يا د دوی د کارکولوحق د دې پر اساس چې څوک د کوم ځای دی، په اړه انګيرنې ونکړي. د کره معلوماتو ددی پاڼې په اړه د پوښتنو لپاره د مدني حقونو څانګې د کډوالو او د کارکونکو د حقونو برخی (IER) سره پدغې شميرې اړيکه ونيسی ۱۸۰۰۲۵۵۷۶۸۸.

**د کډوالی د ځانګړي ويزې او متحدو کډوالو(OAR) او متحدينو د ښه راغلاست (OAW) دعملياتو/پرګرامونو له لارې مشروط لنډمهاله اوسېدونکو(پيرول) شاليد (سابقه).**

- د کډوالی د ځانګړي ويزې لرونکي په متحده ايالاتو کې تلپاتې/دايمي اوسيدونکي دي او ډېری وختونه د "ځانګړي مهاجر تلپاتې/دايمی اوسېدونکي ال پي آر (LPR) يا ځانګړي مهاجر مشروط تلپاتې/دايمی اوسيدونکي يا سي پي آر (CPR)" بلل کيږي. داکسان د نورو دايمي اوسېدونکو په څير، کولی شي چې په متحده ايالاتو کې د دوی د دايمي اوسيدلو د وضعيت په اساس، ژوند او کار وکړي.
- همدارنګه هغه افغانان چې د متحدو کډوالو(OAR) او متحدينو د ښه راغلاست (OAW) دعملياتو/پرګرامونو له لارې مشروط لنډمهاله اوسيدنوکي يا (پيرول) ورکړل شوی دی ، کولی شي چې په متحده ايالاتو کې د (پيرول) يا اوسيدلو د ځانګړي وضعيت له مخې او د اوسيدلو د ټاکل شوي مودې پورې کار وکړي

**د کار غوښتونې پرمهال دکارغښتونکو حفاظت او کارګمارونکو ته د کارکوکونکو د ګمارنې پرمهال يادونې**

- د تابعيت او کډوالی د وضعيت پر اساس د کډوالی د ځانګړي ويزې لرونکي په متحده ايالاتو کې تلپاتې/دايمي اوسيدونکي ال پي آر (LPR) يا ځانګړي مهاجر مشروط تلپاتې/دايمی اوسيدونکي يا سي پي آر (CPR) لرونکي د کارګمارنو څخه انکارکول ښايي د کډوالی اوملیت د قانون (آی ان اې INA) څخه سرغړونه وي. د کډوالو او کارکونکو د حقونو يا آی پي آر (IER) ويب پانه باندی د تابعيت او د کډوالی تبعيض په اړه نور معلومات تر لاسه کړئ.
- د کارګرانو د افغانيت ملي منشأ پراساس د دوی د په کارګمارنو څخه انکارکول، لکه ځانګړي افغان مهاجرين چې قانوني تلپاتې/دايمي اوسېدونکي (LPRs) دي، او ځانګړي افغان مهاجرين چې قانوني مشروط اوسېدونکي (CPRs) دي، اوهغه افغانان چې د متحدو کډوالو(OAR) او متحدينو د ښه راغلاست (OAW) دعملياتو/پرګرامونو له لارې مشروط لنډمهاله اوسيدونکي (پيرول) دي، ښايي د کډوالی اوملیت د قانون (آی ان اې INA) يا د نورو قوانينو څخه سرغړونه وي. د ملي منشأ د تبعيض په اړه د نورو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره د کمارنې د مساوی فرصت د کميسيون ويب پانه اوګوری.

- داسې قانونونه لکه کډوالۍ او ملیت د قانون یا آی ان اې (INA)، د مدني حقوقو د ۱۹۶۴ د قانون VII سرلیک، او ۴۲ یو اس سي ۱۹۸۱ U.S.C.§ قوانین د مختلفو عواملو یا (فاکتورونو) لکه د تابعیت، کډوالۍ وضعیت، ملي منشأ، توکم، او مذهب له مخې کارکونکي له تبعیض څخه ساتي.

**د کارګرانو د کار د اجازې د تایید/تصدیق په اړه یادونې.**

- د کارګرد کار په ګمارولو پر مهال، کارګمارونکي باید د آی-۹ فورمې څخه کار واخلي او د کارګر د کار پیل کولو څخه په دریو ورځو کې دننه د کارګر د پېژندنې او د کار د اجازې تصدیق وکړي. د دې پروسې په اړه نورو معلوماتو لپاره آی-۹ سنټرال (I-9 Central) او د امریکا د تابعیت او کډوالۍ ادارې یا (یو اس سي آی اس USCIS) د کارګمارونکو لارښود کتاب (M-274) ته مراجعه وکړئ.

- فدرالي قانون کارګرانو ته دا اجازه ورکوی چې د دوی د تابعیت، د کډوالۍ وضعیت، د ملي منشأ په پام کې نیولو پرته، په متحده ایالات کې د دوی کار کولو د اجازې د تصدیق لپاره کارګمارنکو ته کوم ډول معتبر او د منلو وړ اسناد وړاندې کړي. کارګران کولی شي چې په دې پروسې کې د غیرعادلانه چلند په اړه د آی پی آر (IER) سره اړیکه و نیسي.

- هغه کارګمارونکي چې پدې پروسې کې د هغو کسانو په وړاندې تبعیض کوي چې د کار کولو اجازه لري، ښایي د کډوالۍ او ملیت د قانون (آی ان اې INA) څخه سرغړونه وي. د آی پی آر (IER) ویب پانه د آی-۹ (I-9) فورمې کې د تبعیض څخه د مخنیوی په اړه معلومات وړاندې کوي.

- ځینې کارګران، کله چې کار پیل کوي، ښایي چې دوی د ټولنیز خوندیتوب/امنیت شمیره (SSN) ونلري. د داخلي عوایدو اداره (IRS)، د ټولنیز خوندیتوب/امنیت اداره (SSA)، او د کورني امنیت وزارت یا ډي ایچ اس (DHS) د دې کارګرانو د ګمارنو او د دوی د تنخاوو په اړه په هغه وخت چې دوی خپلی اس اس ان (SSN) ته په انتظار وي، معلومات چمتو کړي دي.

**ځانګړي مهاجرین چې قانوني تلپاتې/دایمي اوسېدونکې (LPRs) دي، او ځانګړي افغان مهاجرین چې قانوني مشروط اوسېدونکې (CPRs) لپاره د آی-۹ (I-9) د فورمې په اړه معلومات**

- کله چې ځانګړي مهاجرین چې قانوني تلپاتې/دایمي اوسېدونکې (LPRs) دي، او ځانګړي افغان مهاجرین قانوني مشروط اوسېدونکې (CPRs) د آی-۹ (I-9) فورمه ډکوي، باید په اوله برخه کې "قانوني دایمي اوسېدونکي" انتخاب کړي.

- د امریکا د تابعیت او کډوالۍ ادارې یا (یو اس سي آی اس USCIS) د آی-۹ سنټرل (I-9 Central) ویب پانه او د کارګمارونکو لارښود کتاب د منلو وړ داسنادو مثالونه لري چې اکثر دایمي اوسېدونکي، لکه چې ځانګړي مهاجرین چې قانوني تلپاتې/دایمي اوسېدونکې (LPRs) دي، او ځانګړي افغان مهاجرین قانوني مشروط اوسېدونکې (CPRs) ، یې وړ وي، په شمول د: غیر محدود ټولنیز کارت سره د ایالتي پېژندپانه یا د موټر چلوولو جواز؛ د آی-۵۵۱ (I-551) ټاپه یا د ماشین د لوستلو وړد مهاجرت ویزې (MRIV) بهرني پاسپورټ؛ آی-۹۴(I-94) سره د عکس او د آی-۵۵۱ (I-551) ټاپه؛ یا د دایمي اوسېدونکی کارت.

- وروسته لدې چې یو ګمارونکي د آی-۹ (I-9) فورمه ډکه کړي، دا نشي کولی چې له ځانګړي مهاجرین چې قانوني تلپاتې/دایمي اوسېدونکې (LPRs) دي، او ځانګړي افغان مهاجرین قانوني مشروط اوسېدونکې (CPRs)

څخه بیرته د کار کولو د اجازې د اسنادو غوښته وکړي مګر دا چې د کارګر اسناد بیا تصدیق کولو ته اړتیا ولری، لکه بهرني پاسپورټ چې د آی-۵۵۱ (I-551) ټاپه یا ام آر آی وي (MRIV) ولری یو رسید دي، د بیا تصدیق کولو په مهال، کارګران کولی شي چې خپل د انتخاب د منلو وړ اسناد وښيې او اړتیا نه لری چې هغه سند وښيې چې دوی د کار ګمارلو په وخت کې ښودلي و.

- کارګمارونکی دا اجازه نلری چې د دایمي اوسېدنکي کارتونه بیا تصدیق کړي.

**د هغه افغانان چې د متحدو کېدوالو(OAR) او متحدینو د ښه راغلاست (OAW) دعملیاتو/پرګرامونو له لارې مشروط لنډمهاله اوسیدونکي (پیرول) لپاره د آی-۹ (I-9) د فورمې په اړه معلومات**

- د آی-۹ (I-9) د فورمې د ډکولو په وخت کې هغه افغانان چې د متحدو کېدوالو(OAR) او متحدینو د ښه راغلاست (OAW) دعملیاتو/پرګرامونو له لارې مشروط لنډمهاله اوسیدونکي (پیرول) باید د لومړی برخې لاندې "د کار کولو اجازه لرونکي بهرني Alien Authorized to Work" انتخاب کړي.
- پیرول لرونکي کولی شي چې د دوی د هویت او د آی-۹ فورمې لپاره لاندې د منلو وړ اسناد وړاندې کړي.
    - د کار د جواز سند/کارت (EAD )چې له مخې یې د هویت پېژندنه او د کارجواز ثابتیږي. هغه کارګر چې د آی-۹ (I-9) سره د خپل کار د جواز سند/کارت (EAD ) ښکاروي، د کار د جواز سند/کارت (EAD ) د ختمېدو په وخت کې هرومرو د منلو/اعتبار وړ بل سند وړاندې کړي. پدې حالت کې کارګر حق لري چې د خپلې خوښې د اعتبار وړ سند وړاندې کړي او مجبور ندي چې کوم سند یې چې د ګومارنې پوخت کې وړاندې کړی ؤ بیا هماغه سند وړاندې کړي.
    - کچېرې د آی-۹۴ (I-94) فورمه و راتګ/قبولۍ صنف یا برخه کې د (او اې آر OAR) ولري. دارنګه آی-۹۴ (I-94) یو رسید دی چې د هویت او د کارد اجازې دواړو ښکارندوی دی. دغه آی-۹۴ (I-94) د کار د پیل څخه بر ۹۰ ورځو پورې اعتبار لري، بیا تصدیق په صورت کې د مخکني سند د ختمېدول له نېټې څخه تر ۹۰ ورځو پورې اعتبار لري، کارګر باید ګومارونکي ته د کار د جواز سند/کارت (EAD ) او یا د ب لست کې د ذکر شویو سندونو څخه یو ترکیب/جوړه سند او د ټولنیز مصؤنیت (SSN) غیرمحدود کارت د آی-۹ (I-9) د فورمې لپاره وړاندې کړي.

---

**د عدلیې وزارت، و مدني حقونو څانګه، د کېدوالو او کارکونکو د حقونو (IER) برخه.**
د کېدوالو او کارکونکو د حقونو (IER) د ګومارونکو اړوند د اړیکې شمېره -۱۸۰۰۲۵۵۸۱۵۵
د کېدوالو او کارکونکو د حقونو (IER) د کارکونکو اړوند د اړیکې شمېره -۱۸۰۰۲۵۵۷۶۸۸

دوشنبې-جمعې ورځې د سهار له ۹ بجو څخه د مازدیګر تر ۵ بجو پورې.

ژبنې خدمتونه شته او د اړیکې نیونکي هویت نه څرګندیږي.

www.justice.gov/crt-espanol/ier| www.justice.gov/ier

د کم اوریدونکو/په غوږو درندو کسانو لپاره د اړیکې شمېره- ۱۸۰۰۲۳۷۲۵۱۵ اوسمهال شوي: د ۲۰۲۲ م کال د نوامبر میاشت.